# أَفْضَلُ دِينَارٍ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ، دِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى عِيَالِهِ، وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ عَلَى دَابَّتِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى أَصْحَابِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ

له ثوبان رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «أَفْضَلُ دِينَارٍ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ، دِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى عِيَالِهِ، وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ عَلَى دَابَّتِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى أَصْحَابِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ» "تر ټولو غوره دینار چې یو سړی یې لګوي هغه دی چې سړی یې په خپلو اولادونو مصرفوي او هغه دینار چې سړی یې د الله په لار کې په خپلې سپرلۍ مصرفوي او هغه دینار چې د الله په لار کې یې په خپلو ملګرو مصرفوي" ابو قلابة وويل: او په عیال یې پیل وکړ، بیا ابو قلابه وویل: له هغه سړي به د چا اجر لوی وي چې په خپلو وړو اولادونو لګښت کوي، پرده یې کوي (له احتیاج نه یې ساتي) او یا دا چې په ده سره الله هغوی ته فایده رسوي او له احتیاج نه یې ساتي.

[صحيح] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د مصرف کولو ډولونه تشریح کړل او کله چې د خیرات کولو لارې ډېرې شي نو بیا یې ترتیب ورته ټاکلی دي چې کومې لارې ته باید لومړیتوب ورکړل شي، نو په خورا مهم او بیا مهم یې پیل وکړ. نو ویې ویل چې تر ټولو زیات ثواب لرونکی مال هغه دی چې یو مسلمان یې په هغه چا مصرف کړي چې د هغه نفقه پرې واجب ده لکه: مېرمن او اولادونه. بیا پر هغې سپرلۍ (حیوان) لګښت چې د الله جل جلاله په لار کې د جنګ لپاره چمتو شوی وي. بیا یې په خپلو هغو ملګرو او دوستانو لګښت چې د الله په لار کې مجاهدین وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3267

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee